مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۵/۱۰/۰۵

# معلم

## سپېڅلیو ښوونکو ته ډالۍ




په لږه تنخواه ژوند دی،ویښ ضمیر دی او معلم
د صنف توره تخته ده، تباشیر دی او معلم

د ټول ولس چوپان دی او په وچه ډوډۍ ژوند
بې وحې پیغمبر دی او تـنـویـر دی او معلم

د شمعې غوندې سوزي او رڼا وېشي پر نورو
یو وریت په مریدانو باندې پیر دی ؛ او معلم

شاعر کـه د قـام سـتـرګې دي نو دا به هم منې
چې ځوان کهول د ټولنې د ملا تیر دی او معلم

بـاوره! چې په ذهـن مې خوارۀ لګي دا دوه دي
په خیال کې مې د مور و پلار تصویر دی او معلم

د ښوونکو ورځ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ